# افغانستان؛ د بې وزلۍ کچه او تیاره راتلونکی




د خوړو خونديتوب نړيوالې ډلبندۍ ادارې په خپل وروستي راپور کې  کښلي، چې په افغانستان کې عام وګړي د خوړو خونديتوب له سختوننګونو او ګواښونو سره مخ دي. د دې اوونۍ په تحليل کې په افغانستان کې د بې وزلۍ کچې او په ځانګړې توګه د خوړو خونديتوب په برخه کې په شته او راتلونکو ګواښونو او د افغان دولت او نړيوالو مرستندويانو په راتلونکو برنامو او تياريو ترځنګ په يو شمېر حل لارو څېړنه شوې ده.

## په افغانستان کې د بې وزلۍ کچه

که لږ ځير شو، په افغانستان کې د تېرو څو لسيزو پرلپسې جګړو وروسته د هېواد اقتصاد له سترو خنډونو سره مخ شوی دی. که څه هم د ۲۰۰۰ کال را وروسته په  مختلفو برخو کې يو شمېر پرمختګونه هم ليدل کېږي مګر بيا هم د اقتصاد وزارت شمېرو له مخې ۵۵ سلنه افغانان د بې وزلۍ کرښې لاندې ژوند ترسره کوي. په افغانستان کې د وروستيو څو لسيزو راهيسې د جګړې لمنې پراخېدل او وچکالي هغه ستونزې دي چې د هېواد اقتصادي پرمختګ يې ټکنی کړی او د عامو افغانانو د بې وزلۍ کچې په لوړولو کې يې اړين رول اداء کړی. خو بلخوا کله چې د طالبانو اسلامي امارت لمن له هېواد څخه ټوله او پر ځای يې د امريکا په مشرۍ د نړيوالې ټولنې يو شمېر هېوادونو ځواکونه او ادارې افغانستان ته راغلې، او وليدل شول چې ډېری عام افغانان د بهرنيو ادارو سره په مختلفو برخو کې په کارونو بوخت شول او په توګه د بې کارۍ کچه هم په مصنوعي توګه تر ډېره ټيټه شوه. خو د ۲۰۱۴ کال را وروسته کله چې يو زيات شمېر بهرني ځواکونه او يو شمېر بهرنۍ ادارې چې په هېواد کې يې عامو خلکو ته کاري فرصتونه برابر کړي وو له افغانستان کې ووتې ، او وليدل شول چې د بې کارۍ کچه يې په يو ځل او ناڅاپي توګه خورا لوړه شوه. د نړيوالو مرستندويه ادارو د مرستو ټيټوالی او د نفوسو

کچې لوړ والی نورې هغه ستونزې دي چې د بې کارۍ کچې ګراف په لوړوالي کې ورځ تر بلې خپلې اغېزې رابرسيره کوي او عام افغانان د بې کارۍ له ننګونو سره مخ کوي.

## د خوړو خونديتوب او د افغانستان خلک

د خوړو خونديتوب نړيوالې ډلبندۍ ادارې يا (Integrated Food Security Phase Classification (IPC) وروستي راپور له مخې چې د ۲۰۱۹ کال د اګست او اکتوبر مياشتو په منځ کې پرې کار شوی، راغلي چې د افغانستان د ټول نفوس درې دېرش سلنه وګړي د خوړو خونديتوب له سخت ګواښ سره مخ دي او اړينو انساني مرستو ته اړتيا لري. د بې کارۍ کچې لوړتيا، د عامو توکو بيو لوړوالی، جګړه، سيلابونه او وچکالي هغه لاملونه په ګوته شوي چې د عامو وګړو لپاره يې د خوړو خونديتوب په برخه کې خنډونه رامنځ ته کړي دي.
په عامه توګه که د خوړو خونديتوب تعريف ته وکتل شي د ۱۹۹٦ خوړو نړيوالې ناستې له مخې "په هر وخت کې په فزيکي، ټولنيزه او اقتصادي توګه مناسبو او خوندي خواړو ته د عامو وګړو لاسرسي ته د خوړو خونديتوب ويل کېږي" چې افغان وګړي د ياد تعريف له مخې ريښتيا هم د خوړو له سختو ګواښونو سره مخ دي.
ياده اداره چې د ۲۰۱۱ کال راهيسې په افغانستان کې فعاليتونه ترسره کوي د روان کال راپور يې د تېرو کلونو په پرتله يو څه هراړخيز او د هېواد په کچه چې کليوالي او ښاري سيمې پکې هم رانغښتل شوي ترسره شوی. راپور ته په کتو د خوړو خونديتوب په برخه کې سږ کال يو شمېر ښه پرمختګونه هم ترسره شوي دي خو بيا هم د يو شمېر نورو ستونزو ترځنګ د نفوسو کچې لوړوالی او جګړه د هغو لاملونو په توګه ترسترګو کېږي چې کولی شي په راتلونکې کې د خوړو خونديتوب په برخه کې عام افغانان له نورو سختو ننګونو او ګواښونو سره مخ کړي.
د يادې ادارې وروستي راپور پر بنسټ په هرو لسو کورنيو کې شپږو کورنيو د خوړو خونديتوب په برخه کې له ننګونو او ستونزو څخه يادونه کړې. د وردګ، نورستان، باميان، فراه، هلمند، فارياب او غور ولايتونو وګړي بيا د هېواد په کچه د خوړو خونديتوب په برخه کې تر ټولو ډېرو ستونزو او ننګونو يعنې له ۸۰ سلنې زيات وګړي په يادو ولايتونو کې د خوړو نه خونديتوب څخه اغېزمن شوي دي. ۲۹ سلنه عامو وګړو خپلې کاري بوختياوې له لاسه ور کړي او ورځنۍ عايديې ۲۵ سلنه را ښکته شوی چې يادو دوو ستونزو تر ډېره په يادو ولايتونو کې خلک په اقتصادي توګه سخت ځپلي دي.
نږدې نيمايي (۴۷) سلنه هغو کورنيو چې د راپور جوړوونکو سره يې د معلوماتو په شريکولو کې مرسته کړې ويلي چې د کورنيو عايد يې د تېر کال په پرتله خورا ډېر راښکته شوی او يادو کورنيو ويلي چې د کورنيو عايد په ټيټوالي کې يې ٦۰ سلنې بې کارۍ او ۲۵ سلنې جګړې رول لوبولی دی.
په افغانستان کې ۱۱.۸ سلنه وګړي د رسمي بوختياوو ترسره کولو معاش يا تنخوا، ۲ سلنه وګړي له هغو پيسو څخه چې د کورنۍ غړي يې په بهرنيو هېوادونو کې له کار ترسره کولو وروسته خپلو کورنيو ته رالېږي، او پاتې ستره سلنه وګړي د کرنې او مالدارۍ برخه کې له بوختياوو څخه خپل ورځنۍ اړتياوې پوره کوي.

## د بې وزلۍ کچه او تياره راتلونکې

د IPC اټکل له مخې د روان کال نومبر مياشتې څخه تر ۲۰۲۰ کال مارچ مياشت پورې ۱۱.۲۹ ميلون خلک چې د هېواد د نفوسو ۳۷ سلنه جوړوي، ښايي د خوړو نه خونديتوب له سختو ننګونو سره مخ شي. که څه هم هېواد د ۲۰۱۸ کال له وچکالي څخه د راوتلو په حال کې ليدل کېږي، خو بيا هم په هېواد کې امنيتي ستونزې هغه څه دي چې په زيات شمېر سيمو کې يې عام وګړي له خپلو سيمو څخه نورو سيمو ته په بې ځايه کېدو او کډه کولو ته اړ کړي دي، يوازې په روان کال کې شاوخوا ۳۵۵۰۰۰ وګړي د امنيتي ستونزو له کبله بې ځايه شوي دي. او په دې توګه د هغو سيمو وګړي چې داخلي بې ځايه شوي وګړي ور کډه شوي د لا زياتې بې کارۍ کچې سره مخ شوي او په پايله کې د خوړو خونديتوب له ستونزو څخه سر ټکوي.

د قحطۍ د وړاندوينې سيستم شبکې (Famine Early Warning Systems Network) له مخې ښايي په هېواد کې د روان کال نومبر مياشتې څخه تر ۲۰۲۰ کال مارچ مياشت پورې د اوربښتونو کچه په اوسط ډول ترسره شي، چې د اوربښتونو کچه کولی شي د هېواد په مختلفو سيمو کې اغېزې ولري. د بېلګې په توګه هغه سيمې چې کېدلی شي هلته د کرنې په برخه کې عام افغانان ښې لاسته راوړنې ولري او هلته د کرنې لپاره پراخه ځمکې شتون لري، ليدل کېږي چې د هغو سيمو اوسيدونکو د جګړې له وېرې خپلې سيمې پرې ايښې او نه شي کولی هلته خپل کرنيز فعاليتونه ترسره کړي، چې دا بيا د هېواد په کرنيز سکتور نه يوازې بده اغېزه کولی شي، بلکې د هغو سيمو خلکو په بې کارۍ کې ستره ونډه لوبوي.

د خوراکي توکو بازار ته د عامو وګړو نه لاسرسی او د ژمي په موسم کې د واورو وربېدو او د لويو لارو بندېدو له کبله د هېواد يو شمېر سيمې لکه د غور او بدخشان ولايتونو زياترو سيمو اوسيدونکي نه يوازې د خوراکي توکو له کمښت سره مخ کېږي، بلکې د ژمي موسم له ختمېدو وروسته د تودوخې درجې لوړوالی او وارو ويلي کېدو په پايله کې د هېواد د هغو سيمو کرنيزې ځمکې د سيلابونو ښکار کېږي چې کولی شي د عامو وګړو لپاره د خوراکي توکو په برابرولو کې اغېزمنې واقع شي.

بلخوا د قزاقستان هېواد چې د افغانستان غنمو مارکيټ کې ستره ونډه لوبوي، د ياد هېواد هغه سيمې چې غنم پکې کرل کېږي ښايي د اوربښتونو کچې لږوالي له امله د غنمو توليد کچه هم را ښکته شي چې په پايله کې کولی شي افغانستان ته له ياد هېواد څخه د غنمو واردولو بيه لوړه کړي، او دا کار هم کولی شي د عامو افغانانو د بې وزلۍ کچې په لوړوالي کې ونډه ولوبوي، چې افغان دولت يې بايد په اړه اړين ګامونه پورته کړي، چې تر اوسه يې کوم څرک نه ليدل کېږي.

### پايله

افغان دولت چې په اوس کې يې ټوله توجه د دولت مخالفينو سره د جګړې، د ترسره شويو ټول ټاکنو پايلو او افغان سولې په اړه د امريکا او طالبانو ترمنځ وروستيو ناستو او خبرو اترو ته ګرځولې، د هېواد په سطحه د بې کارۍ کچې لوړوالي او هغو ننګونو ته چې کولی شي په راتلونکې کې عام افغانان له خوراکي توکو له نور ډېر

کمښت سره مخ کړي، په هغه ډول پاملرنه نه ده کړې او نه يې په راتلونکې کې کوم ځانګړی څرک ليدل کېږي. افغان چارواکي اړ دي ترڅو د بې کارۍ کچې ګراف راټيټولو ته ځانګړې پاملرنه ترسره کړي او د هغو نړيوالو مرستندويانو مرستې چې مخکې يې هم د افغانستان سره په مختلفو برخو کې انساني مرستې ترسره کړي د هغوی مرستې او په ځانګړې توګه د کرنې په برخه کې هر اړخيزې او اغېزمنې مرستې را جلب کړي. او بلخوا يو شمېر هېوادونو په ځانګړې توګه سعودي عربستان، عربي متحده امارت، قطر ... ته د رسمي وړانديزونو کولو او هغوی سره د افغان بشري ځواک ګمارلو په برخه کې يو شمېر تړونونه ترسره کول کولی شي په لنډ مهاله کې له يوې خوا د بې کارۍ کچې ګراف په ښه او اغېزمنه توګه را ښکته کړي او له بلې خوا د هغو زيات شمېر افغان ځوانانو ژوند چې بهرنيو هېوادونو ته د قاچاقي لارو څخه تلل غواړي هم وژغوري. او په اوږد مهاله کې دولت او اړوندې اداري بايد د کرنې سکتور ته خپله جدي پاملرنه واړوي، دا ځکه چې هېواد کې د کرنې سکتور پياوړي کولو لپاره له يوې خوا پراخه ځمکې او له بلې خوا د اوبو ستر نعمت شتون لري چې کېدلی شي د هر اړخيزې سولې ترسره کېدو وروسته له بهرنيو هېوادونو څخه د غنمو او نورو کرنيزو توکو لکه وريجو واردولو ځای د هېواد صادرات ونيسي، چې د هېواد د اقتصادي پرمختګ لامل ګرځېدلی شي.

# روز جهانی کودک و رنج های ناتمام کودکان افغان



29 عقرب (20 نوامبر) برابر با روز جهانی کودک است. مجمع عمومی سازمان ملل 60 سال پیش در چنین روزی، اعلامیه جهانی کودک و 30 سال پس از آن، کنوانسیون حقوق کودک را تصویب کرد که افغانستان در سال 1994 این سند حقوق بشری را امضا نمود. کودکان افغان با وجود تلاش‌های نهادهای حقوق بشری، از آرامش روحی و جسمی کافی برخوردار نیستند. اکنون روان‌شناسان معتقدند که کودکان افغان در آسیب‌پذیری مطلق قرار دارند و آزارهای جنسی، تفاوت های طبقاتی، امکانات پایین حیاتی و جنگ‌ها بر روان این کودکان تاثیر مخرب می‌گذارد. در همین حال صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل (یونیسف) اعلام کرده که چهار میلیون کودک در افغانستان به کمک نیاز دارند و درمیان این کودکان، 800 هزار نفر به کمک فوری نیازمند می باشند. به گفته یونیسف، این کودکان به دلیل ادامه جنگ، ناامنی، مشکلات اقتصادی و خشکسالی در افغانستان با مشکلات جدی روبرو هستند.

جنگ جاری، وضعیت ناگوار سیاسی و اقتصادی در افغانستان وضعیت کودکان این کشور را تأسف‌بار ساخته است. قربانی شدن کودکان در جنگ، محرومیت از تعلیم و تربیه، تهدید های اجتماعی و انواع خشونت در برابر آنها از مواردی اند که زندگی کودکان افغان را تلخ ساخته است. در این تحلیل به همین وضعیت ناگوار کودکان افغان پرداخته شده است.

## جایگاه افغانستان در گزارش سالانه حمایت از کودکان

گزارش حمایت از کودکان سازمان ملل؛ نشان می‌دهد که افغانستان هنوز هم در صف 18 کشور بدتر برای رشد کودکان در جهان قرار دارد. دفتر حمایت از کودکان سازمان ملل در افغانستان گفته است که با در نظرداشت

برخی از شاخص‌های مرتبط به دوران کودکی از لحاظ محرومیت کودک، افغانستان در صدر جدول قرار گرفته است. دفتر حمایت از کودکان سازمان ملل در افغانستان در گزارش تازه خود گفته است که پس از پیشرفت چشم‌گیر در 18 سال گذشته، اکنون وضعیت برای کودکان کشور بدتر شده است. بر بنیاد این گزارش، هرچند در جریان 18 سال گذشته برای بهبود وضعیت کودکان کارهای صورت گرفته است، اما این تلاش‌ها هم نتوانسته وضعیت کودکان افغانستان را بهبود بخشد. این گزارش نشان می‌دهد که بیش از هفت درصد کودکان قبل از سن پنج سالگی در کشور می‌میرند، 40 درصد آنان از عدم رشد سریع رنج می‌برند، بیشتر از 4 میلیون کودک از مکتب بازمانده‌اند و نزدیک به یک سوم آن‌ها مصروف کار هستند. مسؤولین دفتر حمایت از کودکان سازمان ملل در این گزارش گفته اند «اکنون بیش از هر زمان دیگری، جهان نیاز به سرمایه‌گذاری در افغانستان دارد تا کودکان؛ دیگر یک نسل گمنام نباشند. دوران کودکی باید یک دوره امن و شاد باشد، اما این مساله برای میلیون‌ها کودک افغان چنین نیست، اکثراً به دلایل خشونت، فقر و عواقب ناگوار، آنان دوران کودکی خود را باید قربانی کنند». دفتر حمایت از کودکان سازمان ملل در افغانستان با اشاره به بدتر شدن وضعیت کودکان در این کشور از جامعه جهانی خواستار کمک‌های بشردوستانه بیشتر برای رسیدگی به وضعیت کودکان شده است. در گزارش آمده است که سازمان ملل متحد در سال 2019 حدود 500 میلیون دالر کمک‌های بشردوستانه برای افغانستان درخواست نموده که تنها حدود 40 درصد آن تاکنون تأمین شده است. دراین گزارش گفته شده که کودکان در کشور، حق آموزش، محافظت و صحت خود را در دوران حکومت وحدت ملی از دست داده‌اند. گزارش دفتر حمایت از کودکان سازمان ملل در افغانستان، درگیری‌های مسلحانه را به عنوان یکی دیگر از چالش‌های عمده یاد کرده و گفته است که بخش‌های کلیدی این کشور به شکل فزاینده‌یی در حال جنگ قرار دارند.

## عوامل آسیب پذیری کودکان افغان

آسیب پذیری کودکان در افغانستان عوامل متعدد سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی دارد که درینجا به مهم ترین آنها می پردازیم:

**خشونت**: خشونت یکی از مسایلی است که اکثر کودکان کشور را تهدید مي کند. این امر نه تنها در خانواده، بل در اجتماع نیز شیوع دارد. کودکان نه تنها در معرض خشونت‌های مستقیم فزیکی قرار دارند، بلکی از انواع خشونت‌های روانی نیز رنج می‌برند. به باور آگاهان حقوق طفل، فقر و بی سوادی عوامل اصلی خشونت علیه کودکان می باشند. فقر و بی سوادی در جامعه امروزی افغانستان، باعث شده که شماری زیاد از کودکان با خشونت های خانوادگی مواجه شوند.

**محرومیت از تعلیم و تربیه:**عدم دسترسی اطفال به تعلیم و تربیه چالش عمده دیگری محسوب می شود که فراروی کودکان افغان وجود دارد. تعلیم‌وتربیه رکن اساسی انکشاف‌پایدار یک جامعه است و نیازمند توجه بیشتر دولت‌ها می‌باشد. دولت افغانستان بر اساس قواعد و مقررات بین‌المللی و قوانین ملی وظیفه دارد تا

زمینه دسترسی برابر به تعلیم و تربیت را به شهروندان فراهم سازد. بهبود وضعیت معارف در طول ۱۸ سال گذشته، یکی از شعارهای مهم و برجستهٔ دولت افغانستان و جامعهٔ جهانی بود؛ اما با گذشت این مدت طولانی و مصرف میلیاردها دالر، با آن‌که معارف پیشرفت‌های چشم‌گیری نیز داشته، ولی هنوز هم مشکلات و چالش‌های زیادی این عرصهٔ حیاتی را تهدید می‌کند و میلیون‌ها کودک افغان از رفتن به مکاتب محروم اند. بر بنیاد معلومات وزارت معارف افغانستان، چهار میلیون کودک افغان از خدمات تعلیم محروم اند. تحقیق یونیسف به همکاری وزارت معارف افغانستان که در ربع دوم سال 1398هـ ش نشر شده، نشان می‌دهد که در سراسر افغانستان 47 درصد (4 میلیون) کودک واجد شرایط، از رفتن به مکاتب محروم اند. ناامنی‌ها، نبود سهولت‌های لازم در مکاتب، بی‌جاشدن از مسکن و ازدواج‌های زیر سن از عواملی اند که در گزارش مذکور در پیوند به این وضعیت بیان شده است . در کل محرومیت از تعلیم یکی از نگرانی‌های مهم کودکان افغانستان است. در این کشور تعداد بزرگی از کودکان به دلیل جنگ و نا امنی، بی‌جا شدن خانوادگی، بی‌سر پرستی و مشکلات فقر و بیچارگی، از آموزش محروم اند.

**تهدیدهای امنیتی:** کودکان در افغانستان با خطرات گوناگون مواجه اند. اعتیاد، اختطاف و حوادث جنگی و طبیعی کودکان را تهدید می کنند. مسوولان هیئت معاونت ملل متحد در افغانستان (یوناما) می گویند که در جریان سال 2019م به تعداد 2461 کودک بر اثر جنگ جاری در کشور کشته یا زخمی گردیده اند. خانم شوسن، مسوول کمیته ماین پاکی در افغانستان می گوید که ماهانه حدود 20 طفل در سراسر افغانستان بر اثر ماین زخمی یا کشته می شوند. حضور کودکان در صفوف طرفین درگیر جنگ در افغانستان، استفادهٔ آنان برای اهداف جنگی و حتی استفادهٔ جنسی از کودکان یکی از نگرانی‌های دیگر در برابر زندگی کودکان افغان است. با آنکه در این رابطه نهادهای حقوق بشری بارها ابراز نگرانی کرده‌اند و در گزارش‌های خویش گفته اند که در صفوف جنگ از جوانان کم سن در افغانستان استفاده صورت می‌گیرد، هم در صفوف مخالفین مسلح دولت و هم در پولیس محلی جوانان کم‌عمر استخدام می‌شوند. در کل با آن‌که بعد از سال 2001م و روی‌کار آمدن نظام جدید، نهادهای مختلف ملی و بین‌المللی در عرصهٔ حمایت از حقوق بشر و اطفال در افغانستان فعالیت دارند و در این عرصه میلیون‌ها دالر به مصرف رسیده است؛ اما هنوز هم کودکان افغان به نحوی از انحاء قربانی جنگ و نا امنی‌ها می‌شوند.

**تهدید های اجتماعی**: یکی از قربانیان مشاجرات شدید و طولانی والدین و نزدیکان، کودکان بی‌گناهی هستند که در این مشاجرات صدمه عاطفی و روانی می‌بینند. در افغانستان به دلیل ازدواج‌های سنتی و قومی، این اختلاف‌های خانوادگی زیاد دیده می‌شود. بعضی اوقات در مشاجره والدین یا اعضای فامیل، کودکان ابزار تلافی قرار می‌گیرند که بر آسیب‌های روانی آنها می‌افزاید. اضطراب حاصل از زندگی در چنین محیطی کودک را تحت فشار شدید روانی قرار می‌دهد و در نهایت ممکن است کودکان را به مشکلات رفتاری و اختلالات روانی دچار کند، اعتیاد والدین به دلیل خصوصیاتی رفتاری که در آنان ایجاد می‌کند، مانند پرخاشگری، بی‌مسئولیتی و کاهش عاطفه سبب می‌شود تا کودکان در معرض آزار و سوء استفاده بیشتر قرار گیرند.

طبق گزارش‌های موجود، حدود ۳ میلیون نفر معتاد هستند، یعنی حدود ۱۰ درصد افراد جامعه. این باعث شده تا اغلب آنها به دلیل مصرف مواد مخدر، سلامت روانی خود را از دست داده، زن و فرزندان خود را مورد آزار و اذیت و انواع خشونت‌های خانوادگی قرار دهند.

**مشکلات اقتصادی:** وجود اطفال زیاد و فقر خانواده ها باعث شده است که والدین نتوانند از اطفال شان حمایت لازم را داشته باشند، مصارف تعلیمی شانرا تأمین نموده ضرورت های روزمرهٔ شانرا به نحو احسن برآورده سازند. این امر باعث شده که شمار زیادی از اطفال از نعمت تعلیم و تربیه محروم مانده و پس از سن پنج و شش سالگی، مصروف کارهای شاقه شوند.

## پیشنهادات

با توجه به این تحلیل، ایجاب می نماید که براي بهبودی وضعیت کودکان نکات ذیل در نظر گرفته شود.

- اصلاح قوانین افغانستان در رابطه با جرایم کودکان و حمایت از اطفالی که مورد تجاوز جنسی قرار می گیرند؛
- عملی شدن کنوانسیون حقوق طفل و سایر تعهدات بین المللی در رابطه به حقوق اطفال، از سوی دولت افغانستان؛
- کمپاین و آگاهی دهی از حقوق اطفال برای کودکان و والدین، در سراسر کشور، از طریق رسانه ها و راه اندازي ورکشاپ هاي آموزشی و آگاهی دهی؛
- تعیین مجازات برای ناقضین حقوق کودکان و مورد بازپرس قرار گرفتن آنها و تطبیق قانون در مورد آنان؛
- ایجاد و تقویت نهادهاي ویژه برای حمایت از اطفالی که حقوق شان نقض می شود و یا سرپرست خود را از دست داده اند؛
- تداوي و توجه جد به کودکان معتاد و جلوگیری از گسترش اعتیاد میان اطفال؛
- ایجاد اشتغال و فقر زدایی، به خاطر نجات کودکان از کارهای شاقه در روی جاده ها و یا در جاهایی مثل کارخانه ها و کوره های خشت پزی؛
- ایجاد و توسعه تسهیلات تعلیمی و تربیتی براي کودکان که به تعلیم و تربیت دسترسی ندارند و نیز در محلاتی مانند کودکستان های دولتی، پارک های تفریحی؛
- ایجاد یک محیط مصوون در جامعه برای کودکان به خاطر جلوگیری از اعمال تبعیض و رفتارهای خلاف کرامت انسانی با اطفال؛

ارتباط با ما:
ایمیل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com
ویب‌سایت: www.csrs.com -- www.csrs.af
شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (0) 93 +

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.